مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ژباړن: رڼاګل اریوبزی ۲۰۲۱/۰۳/۲۹

# مزری او موږک

## د ماشومانو له پاره لنډه کیسه

په ډېرو پخوانیو وختو کې، په تیرو څنډ نو زمانو کې، هلته په ګڼ تیاره ځنګل کې، د د نګو هسکو غرونو په لمن کې یو عټ غونډې مزری اوسیده. د ځنګل په ټولو چارپایو، په کوچنیو او غټانو، په پیلانو او پړانګانو، په لیوانو ګیدړانو، پیشوګانو موږکانو، په دې ټولو زور ور و، له هیچا نه ډاریده. د ځنګل خو دا قانون او دا یې لار دی، چې زورور او په ټولو بر، هم حقدار دی، هم سردار دی. نو ځکه دا مزری هم په دې ځنګل کې د ټولو څلور پښیو شهریار دی. دورځو نه یوه ورځ داشهریار په خپل دربار کې، د لوړغره تر څنګه په یوه غارکې، په خواږه خوب ویده پروت و، رنګا رنګ ښکلي خوبونه یې لیدل، خوشالۍ وې ترې چاپیره او غمونه یې هیرول.

د غار په شاوخوا کې یوه ګله مست موږکان هم اوسید ل، چې تل د یخوا او ایخواته ګرځیدل، هیڅ کرار نه کښیناستل، لوبې یې کولې منډې ترپې یې وهلې. یو موږک دغار تر څنګ په یوه پرخه وخاته، خو پښه یې وښوئید له، په مځکه ولویده او مزری پسې راویښ شو په منګول کې یې ونیوه. موږک د مزري په منګول کې چې راګیرشو، په ژړاشواو په ویر شو، بیایې ناره کړه چې ای د دې ځنګل سرداره، د زور اوزړه خاونده شهریاره! زه یو بې وزله، کمزوری او کوچنی موږک یم، ستا رعیت یم، نه یاغې یم، نه باغي یم او نه زه دومره احمق یم چې به ستا سپکاوی وکړم. زه د لته په دې پرخه وختمه، پښه مې وښوئید له، ستا تر څنګه ولویدمه. زه پوهیږم چې ته زور لرې بې شانه، هم دې زړه دی مهربانه، بخښنه راته وکړه، ژوند مې مه اخله له مانه، په دې مهر مې زړه ښاد کړه، له منګولې مې ازاد کړه. موږک خپل خبرو ته د وام ورکړ او مزري ته یې وویل چې مرګ مې تاته هیڅ ډول ګټه نه د رسوي، خو که ژوندی پاتې شم نو تل به دې منتباروم، او تل به ستا خدمت اومرستې تیار وم.

مزري د موږک سره سمه ځوانمردي وکړه اوهغه یې ازاد کړ، خو له ځان سره یې وویل چې:« وبه ګورو چې په څه ډول یوکوچنی اوکمزوری موږک د یوه کلک او ځواکمن مزري منند وی کیدلی شي او د ځنګل له پاچا سره څنګه او کوم ډول مرسته کولی شي.» ډ یر وخت لا نه و تیر شوی کله چې موږک د ورځې په سهر کې، په همدې ګڼ او تور ځنګل کې دونو زړي او میوې لټولې راټولولې، له غمه ډکې لوړې رمباړې یې واوریدلې. موږک پوه شو چې دا خو هغه مزری دی چې له خوبه مې بیدار کړ، په

منګول یې ونیولم، خو ځوانمرد و، زړیې ازاد کړم او ویې بخښلم. اوس داسې راته ښکاري چې په کوم جنجال کې دی ښکیل شوی او ځان نه شي ترې ایستلی. په بیړه لاس په چار شو، روان په هغه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

لار شوو چې رمباړې ترې راتللې، په ځغاسته او په ټا پو شو، منډې ترپې يې وهلې. کله چې دپيښې ځای ته ورسيد، نو ګوري چې مزری په يوه جال کې راګير شوی نغښتل شوی اودا سې بند پاتې شوی دی چې ځان ترې را ايستلی نه شي او د جال کلک اومحکم مزي په خپلو منګولوغوځولی نه شي اودا د زور ځواک پاچا اوس له ځان سره هيڅ مرسته کولی نه شي.

موږک ور غږ کړ چې ای د دې تور او ګڼ ځنګل پاچا زما اشنا، ای د زور او ځواک خاوند شهرياره زماياره، يم راغلی د دې پاره، چې د دې جال د جنجالونه دې ازاد کړم، دغمونو اورنځو نو نه د ې خلاص کړم او د ر ښکاره به خپل اخلاص کړم. بيا يې زر خپل کار پيل کړ، په وړو تيزو غا ښونو يې د جال مزي ژو ول او غوڅول او په لنډ وخت کې يې د جال د يوې برخې مزي داسې غوڅ او ذ رې ذ رې کړل، چې د مزري مخکنۍ منګولې ازادې شوې. مزري بيا په خپلو منګولو جال څيري کړ او ترې را و وت. په دې توګه غټ او ځواکمن مزری د واړه او کمزوري موږک په مرسته ازاد شو.

Bezaubernde Kurzmärchen aus aller Welt


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ